مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۸/۰۸/۱۸

# نړۍ ته د افغانستان د خپلواکۍ په پیژندنه کې

## د محمد ولی خان دروازی مهمه ونډه

(لومړۍ برخه)

اروابناد محمد ولی خان دروازي چي په اماني دوره کي د بهرنیو چارو د وزارت، د حربیي د وزارت او د غازي امان الله خان د سلطنت د کفالت لوړو مقامونو ته ورسید، زمونږ د هیواد یو هغه ربنتیني بچي ؤ، چي د انګریزي استعمار په وړاندي مبارزې او د افغانستان د خپلواکۍ په معرفي او نړیواله کچه د رسمیت په پیژندلو کي یې ستره او مهمه ونډه درلوده.
هغه د اماني دولت د فوق العاده ګرځنده استازي او سفیر په توګه، د لومړي ځل دپاره، نړۍ سره دیوه آزاده او خپلواکه افغانستان سیاسي روابط ټینګ کړل، او د نړۍ بیلابیلو هیوادو ته یې د افغانستان د خپلواکۍ او ملي هویت د معرفۍ په موخه سفرونه وکړل .
محمد ولی خان دروازي د غازي امان الله خان د ګوتو په شمیر هغو ملګرو او پلویانو په ډله کي وو، چي د ژوند تر پایه هغوي او اماني نهضت ته وفاداره پاتي شول ، او پدې لاره کي یې نه یوازې خپل سرونه قربان کړل، بلکي اولادونو او کورنیو یې هم د غلام نبي خان چرخي، غازي میرزمان خان کونړي او لس ګونو نورو آزادي غوښتونکو او مشروطه غوښتونکو کورنیوپه شان زندانونه ولیدل، کړاوونه او تکلیفونه وګالل او حتی ماشومان یې هم د مکتب او تعلیم له نعمته محرومه پاتي شول .

### د اماني رژیم د دیپلوماتیکو اړیکو پیل:

د خپلواکۍ ګټل او بیا نړیوالو ته د هغي ورپیژندل، د اماني رژیم د لومړنیو لاسته راوړنو او سیاسي بریالیتوبونو څخه وو. غازي امان الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبرورې د ۲۸ مي نیټي په خپلي تاریخي اعلامیي کي د خپل سلطنت د مهمو اهدافو په هکله ویلي «کله چي زما ستر ملت شاهي تاج را په سر کړ، ما ژمنه وکړه چي د افغانستان دولت باید د نړۍ د نورو خپلواکه قدرتونو په شان خپلو کورنیو او بهرنیو چارو کي آزاده او خپلواکه اوسي. د افغانستان ملت د هیواد دننه بشپړه آزادي ولري او د هر راز تیري او ظلم نه خوندي اوسوازي او یوازې د قانون اطاعت وکړي ...حکومت به مو په افغانستان کي داسي اصلاحات وکړي چي ملت او مملکت مو د نړۍ د پرمختللو هیوادونو په منځ کي خپل مناسب مقام تر لاسه کړي ».
اماني رژیم انګریزانو ته د ۱۹۱۹ کال د مارچ د میاشتي د دریمي نیټي د لیک د استولو نه وروسته، په کوم کي چي د مساوي حقوقو په اساس یوه نوي تړون ته تیاري ښودل شوې وو، سمدلاسه پرته له دې چي د هغوي ځواب ته تم شي، په عملي توګه خپل آزاده او خپلواکه سیاست پیل کړ. د یوه بشپړ خپلواکه دولت د جوړولو په لاره کي یو اقدام هم د افغانستان د انزوا د ختمولو په موخه د بهرنیو چارو د شعبي جوړول وو، چي مشري یې د بهرنیو چارو د لمړني وزیر په توګه اروابناد محمود طرزي کوله . غازی امان الله خان د هماغي میاشتي د یولسمي نیټي په فرمان کي په پیښور کي افغان استازي (د افغان پسته خاني آمر) ته لاربښوونه وکړه چي د یوې رسمي اعلامیي په ترڅ کي د هندوستان مطبوعات د امان الله خان د واکمنی نه خبر کړي : « د افغانستان حکومت به په کورنیو او بهرنیو چارو کي خپلواکه او آزاده وي . یعني ټول هغه حقوق چي دخپلواکه قدرتونو حکومتونه یې لري، افغانستان به هم ترې برخه مند شي.»[1]

---

1 . د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد، د خارجي څانګي د سرحد څانګه، د ۱۹۲۰ کال د اکتوبر میاشت ۷۰۵-۸۰۶، ګڼي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

محمود طرزی هم دهماغه میاشتي په ۲۹ مه نیټه د بریتانوي هند حکومت ته خبر ورکړ چي تر دې وروسته به د بریتانوي هند او افغانستان تر منځ ټول ارتباطات د ده له لارې ترسره کیږي. او پدې ډول یې هغه پخواني تعامل ، چي د امیر او وایسراي تر منځ اړیکي وو، ختم کړ.[2]
نوي دولت، حتی دمخه تر دې چي انګریزان د افغانستان د بشپړې آزادۍ منلو ته مجبوره شي، د نړۍ د آزادو هیوادونو سره د ډیپلوماتیکو روابطو د ټینګولو کوښښ پیل کړ، او د جاپان، ترکیي، ایران، فرانسي او د امریکي متحده ایالاتو په ګډون ګڼ شمیر هیوادونو ته یې د لیکونو په استولو سره د هیواد خپلواکي اعلان کړه.
پدې ترڅ کي دوه مکتوبونه شوروي اتحاد ته هم واستول شول ، چي یو یې د محمود طرزي لخوا د شوروي خارجه وزیر او بل یې د امیر لخوا لنین ته ؤ.
څرنګه چي د افغانستان او شوروي اتحاد دواړو هیوادونو د اړیکو تاسیس او پراختیا ته اړتیا درلوده، یعنی هم امان الله خان د بریتانیا په وړاندي یوه متحد ته اړتیا درلوده، او هم شوروي اتحاد غوښتل، په هر قیمت چي وي، خپل دښمن لویه بریتانیا کمزوري کړي، او ددغه ګډ دښمن (انګریز) په وړاندې یې د افغانستان دوستۍ او ملګرتیا ته اړه درلوده؛ شوروي اتحاد له لومړنیو هیوادو څخه وو چي د ۱۹۱۹ کال د مارچ په ۲۷مه نیټه یې په رسمي توګه د افغانستان خپلواکي، بې له قیدو شرطه په رسمیت وپیژندله .
په کابل کي د انګریزانو وکیل، حافظ سیف الله خان، د اپریل په ۱۵مه نیټه بریتانوي هند ته خبر ورکړ چي محمد ولی خان په بخارا کي د افغانستان د لومړني استازي په توګه ټاکل شوی دئ .
هو، د انګریزانو سره د افغانانو دریمه جګړه لا پیل شوي نه وه چي محمد ولي خان دروازي د خاص سفیر په توګه وټاکل شو تر څو د نړۍ هیوادونو سره ډیپلوماتیک روابط ټینګ کړي . غازي امان الله خان لینن ته د ۱۹۱۹ کال د اپریل د ۲۱ مي نیټي په خپل نوي پیغام کي ولیکل چي د خپل فوق العاده سفیر، جنرال محمد ولي خان په مشرۍ یو ډیپلوماتیک هیئت (پلاوی) اروپا ته استوي، او مسکو به لومړني پایتخت وي چي افغاني هیئت به ترې کتنه وکړي .
محمد ولي خان اجازه لري چي خبرې اترې وکړي او د دواړو هیوادونو تر منځ د دوستۍ د رامنځته کولو او د دوه اړخیزو ګټو د تامین زمینه برابره کړي .
د افغانستان او شوروي اتحادتر منځ د ډیپلوماتیکو اړیکو ټینګول پر ګډ دښمن، بریتانیي، باندې یوه ټینګه او حساسه ضربه وه .
د یادوني وړ ده چي د شوروي روسیي او منځنۍ ایشیا د خلکو تر سره د افغانستان د اړیکو په ټینګولو کي د هندوستان مشهوره آزادي غوښتونکي شخصیت، برکت الله، هم مهم رول درلود. برکت الله مخکي لدې چي ارواښاد محمد ولي خان مسکو ته ورسیږي، د افغانستان د نوي پاچا لخوا د یوه غیر رسمي هیئت په چوکاټ کي ځیني دندې درلودلي ، او د افغانستان د پلویتوب او ملاتړ د جلبولو دپاره یې لارې چارې لټولې . په هغه وخت کي دغه اقدامات د ګډ دښمن (انګریز) سره د مخالفت تر پردې لاندې تر سره کیدل . هغه د مي په ۶مه نیټه د «ایزویستیا» د خبرپاڼ سره په یوې مرکي کې اعلان وکړ چي «هغه نه یو کمونیست دئ او نه هم سوشلست، بلکي یو ایشیایي وطنپرسته او نشنلست دئ چي د ایشیا څخه د بریتانیا ویستل غواړي . هغه زیاته کړه چي روسان او د ایشیا نشنلستان سره طبیعي متحدین دي.[3]

## بهرنیو هیوادونو سره د افغانستان د سیاسي مناسباتو په تاسیس کي د محمد ولی خان دروازی خدمتونه:

اروپا او امریکا ته د جنرال محمد ولی خان دروازی تر ریاست لاندې استول شوي ډیپلوماتیک هیئت د بلجیم، فرانسي، انګلستان، د بالتیک د سمندرګوټي د سیمي د هیوادونو، پولنډ، ایټالیا و د امریکي د متحده ایالاتو نه کتنه وکړه .
ارواښاد غبار د دغه هیئت په هکله لیکي چي «د دغه لوی هیئت رئیس د دربار یو لیبراله روښان فکر محمد ولی خان بدخشاني ؤ، او یو مهم غړی یې د افغان مشروطه غوښتونکو یو فاضل شخصیت میر یاربیک خان بدخشاني ؤ، چي د کابل نه د حرکت په ورځ یې د آس په شا سکته وکړه، له نړۍ یې سترګي پټي کړې او د هیواد د روښانفکری کړۍ یې غمژني کړی».[4]
د فوق العاده استازي، محمدولی خان دروازی ، د سفر هدف د نړۍ د ټولو هیوادونو لخوا د خپلواکه او نوي افغانستان پیژندل او د ډیپلوماتیکو او تجارتي مناسباتو ټینګول وو. امان الله خان د خپل هیواد دپاره د ټولو پلازمینو

---

[2] . هماغه ځای ۷۱۳ پاراګراف .
[3] . هاشمی، سید سعدالدین (۲۰۰٤)، ص ۱۸٤.
[4] . غبار، صفحه ۷۸۶، جلد اول افغانستان در مسیر تاریخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

سره د ديپلوماتانو تبادله، په افغانستان کې د پانګې د اچونې، د افغاني مالونو د اخيستلو او خپلو مالونو د خرڅولو د پاره د سوداګرو د تګ راتګ، او د ټکنالوژۍ په برخه کې د افغانانو د روزنې، خوبونه ليدل[5].

**د بهرنيو هيوادونو سره تعليمي قراردادونه:**

محمد ولی خان دروازی اروپايي مهمو هيوادونو ته د افغانستان د لومړني فوق العاده سفير په توګه، د اروپايي مشرانو سره په خبرو اترو کې پراخه ورټيا وښودله ، او د هغو هيوادو لخوا يې د افغانستان په رسميت پيژندنې ته زمينه برابره کړه . نه يوازې د فرانسې، آلمان، ترکيې او ايټاليا په شان هيوادونو په افغانستان کې خپلې سفارتخانې پرانيستلې، او افغانستان هم پدې توګه دغو هيوادو کې خپلې سفارتخانې خلاصې کړې، بلکې آلمان د «ليسه عالی امانی» په نامه د هلکانو يو ښوونځې، او فرانسې هم د مکتب امانيه او ليسۀ ملالی په نامه ه هلکانو او نجونو دوه ښوونځې جوړ کړل (داماني دولت د سقوط نه وروسته د اماني مکتب نوم په نجات او د امانيه مکتب نوم په استقلال بدل شول) .
څلويښت (۴۰) تنه هلکان د لوړو زده کړو دپاره فرانسې او آلمان او يو شمير نجونې هم د عالي تحصيلاتو دپاره ترکيې ته واستول شوی . يو شمير افغاني ځوانان چې د کشتی په وسيله د بمبئې له لارې فرانسې ته استول شوي وو، د ۱۹۲۱ کال د اکتوبر په مياشت کې هلته ورسيدل، محمد ولی خان دروازی هم ددغه نوو راغلو ځوانانو سره د کتنې دپاره هلته تم شو.
يوه ډله آلمانی، فرانسوی، ايټالوی او ترکی متخصصين هم د تعليم او تربيې، لرغون پيژندنې، صنعتي او پوځي چارو د پرمختګ او پراختيا دپاره افغانستان ته راغلل ، چې حتی زمونږ هيوادوال تر ننه هم د هغه وخت د اساسي پروژو څخه ګټه اخلې .
(نور بيا)

[5] . Stewart, Rhea Talley (1973). Fire in Afghanistan (آتش در افغانستان)، ص ۱٦۷.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ